# إِنِّي عَلَى الحَوْضِ حَتَّى أَنْظُرَ مَنْ يَرِدُ عَلَيَّ مِنْكُمْ، وَسَيُؤْخَذُ نَاسٌ دُونِي، فَأَقُولُ: يَا رَبِّ مِنِّي وَمِنْ أُمَّتِي

له اسماء بنت أبی بکر - رضي الله عنهما - څخه روايت دی وايي چې: پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «إِنِّي عَلَى الحَوْضِ حَتَّى أَنْظُرَ مَنْ يَرِدُ عَلَيَّ مِنْكُمْ، وَسَيُؤْخَذُ نَاسٌ دُونِي، فَأَقُولُ: يَا رَبِّ مِنِّي وَمِنْ أُمَّتِي، فَيُقَالُ: هَلْ شَعَرْتَ مَا عَمِلُوا بَعْدَكَ، وَاللَّهِ مَا بَرِحُوا يَرْجِعُونَ عَلَى أَعْقَابِهِمْ». «زه به په حوض باندې - ولاړ - یم تر څو وګورم چې ستاسو څخه څوک پر ما راځي، نو یو څه خلک به ماته له راتګ څخه منع شي، زه به ووایم: اې ربه دوی زما او زما له امت څخه دي، نو وبه ویيل شي: آیا ته پوهیږې چې ستا څخه وروسته یې څه کړي دي، قسم په الله چې ډیر ځنډ یې ونکړ تر دې چې شاتګ یې وکړ- یعنې بېرته ستا له دین څخه اوړيدلي دي».
[صحيح] - [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی)]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چې هغه به یې د قیامت په ورځ پر حوض باندې وي تر څو وګوري چې له امتیانو یې څوک حوض ته ورځي، او زر دی چې هغه صلی الله علیه وسلم ته نږدې به یو څه خلک منع شي، نو وبه وایي: اې ربه! زما او زما له امت څخه دي، نو ورته به وویل شي: آیا ته پوهېدلای یې چې ستا څخه له بیلتون وروسته یې څه کړي دي، قسم په الله چې ډیر ژر یې په شا تګ کړی او له خپل دین څخه یې مرتد شوي دي، نو نه خو دوی له تا څخه دي، او نه ستا له امت څخه.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65031

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee